# يومِ دعوتِ اسلامي

# (د دعوتِ اسلامي کليزه)

(Pashto)



Dawat-e-Islami DAY 2nd September




# یومِ دعوتِ اسلامي (د دعوتِ اسلامي کلیزه)

**الله** پاک اِرشاد فرمائي:

وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ
وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ
وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (پ ۴، اٰلِ عمرٰن: ۱۰۴)

[مفهوم]ترجمۂ کنزالعرفان: او ستاسو نه یوه ډله داسې کیدل پکار ده چې هغه د نیکۍ طرف ته رابلل کوي او د ښې خبرې حکم ورکوي او د بدې خبرې نه منع کوي او هُم دا خلق کامیابي موندونکي دي.

## د دعوت اسلامي شروع کیدل او ترقي:

په پاسني آیت باندې د عمل په رڼا کښې مشهور و معروف مذهبي رهنما او بین الاقوامي اسلامي سکالر **شیخ طریقت امیرِ اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا ابو بِلال محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوِي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په ذُوالقعدةِ الحرام 1401 ھ بمطابق ستمبر 1981ء کښې د خپلو ملګرو سره د عاشقانِ رسول د دیني تحریک **دعوتِ اسلامي** بُنیاد کیښودو. **دعوتِ اسلامي** د **الله** پاک په فضل و کرم سره د سیاست، احتجاج، او هړتالونو نه د لرې اوسیدلو د پالیسۍ سره په مثبت انداز کښې د دین داسې کار اوکړو چې د **الله تعالیٰ** په فضل و کرم سره مسلسل د ترقۍ په لار روان دے. **دعوتِ اسلامي** خپله پوره توجُّه په مبارکو دیني کارونو مضبوطه اوساتله او صرف د پاکستان د حده پورې نه بلکه په لږه موده کښې د دې رڼا په پوره دُنیا کښې خوره شو. د خپلو نیکو مقصدونو پوره کولو دپاره **دعوتِ اسلامي** د 80 نه زیاتو شُعبو تر لاندې د 313 نه هُم زیاتې ذیلي شعبے قائمې کړې دي.

## قیادت او مرکزي مجلِسِ شوریٰ

د امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په رهنمائۍ کښې د **دعوتِ اسلامي** مرکزي مجلِسِ شوریٰ ته هٔغه اهمیت او قبولیت حاصل دے کوم چې په بدن کښې زړه ته حاصل وي. دا شوریٰ د **دعوتِ اسلامي** ورځ په ورځ زیاتیدونکو دیني کارونو خیال هُم ساتي او د دې د کارکردګۍ زیاتولو دپاره نظام بهتر نه د بهتر جوړولو په باره کښې غور و فکر کښې هُم مصروف وي امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په دې مجلس باندې ډیر شفقت او محبت فرمائي، او د دې رهنمائي هُم کوي او د **دعوتِ اسلامي** مجموعي نظام ته د ترقۍ دپاره په کوشش کښې مصروفه اوسي.

## مذهبي او تعلیمي اقدامات

دعوت اسلامي په ډیر محنت او کوشش سره په زرګاؤ جماتونه جوړ کړي دي او په پوره کوشش سره د دې روحاني مقاماتو د هر قسمه اعانت کښې مصروف عمل دے. صرف دا نه بلکه دې تحریک په تعلیمي ادارو کښې هُم د دین اسلام رڼا خوره

کړي ده. په زرګاؤ مدرَسَةُ المدینه قائمې دي چې په هغې کښې لکونو ماشومانو [هلکانو او جینکو ته] فِي سبيلِ الله د قرآن مجید د حفظ و ناظره تعلیم ورکولے کیږي چې تر اوسه پورې بیشمیره ماشومانو قرآن مجید په ناظره ختم کړے دے او ګڼ شمیر د قرآن مجید حافظان هُم جوړ شوي دي. دغسې د هلکانو او جینکو جُدا جُدا ګڼ شمیر جامعةُ المدینه قائمې دي چې په هغې کښې د درسِ نظامي [عالِم کورس] تعلیم ورکولے کیږي او تر اوسه اَلْحَمْدُلِلّٰه په پاکستان او بیروني ملکونو کښې د دې جامعاتو نه په زرګاؤ عالـمان او عالـماني فارغ التحصیل شوي دي، عُلِماء، واعظِین او مفتیانِ کرام جوړ شوي دي او اوس د اُمَّت په اصلاح کښې مصروفِ عمل دي.

د 5 لاکھ نه زیات سړي او زنانه رضاکارانه طور او تقریباً 46 زره نه زیات تنخوادار او دغسې نور په کروړونو محبت کوونکي د روښانه ستورو د مجموعې په شان د دعوتِ اسلامي په مختلفو دیني کارونو کښې مصروفِ عمل دي او د دې د ورکړي شوي اهم ترین مقصد (د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش) په تکمیل کښې مصروفِ عمل دي.

## دارُ الاِفتاء اهلِ سُنَّت:

د مذهبي رهنمائے په خصوصي او اهم ترین میدان کښې دعوتِ اسلامي د دُنیا په مختلفو ګوټونو کښې د "دار الافتاء اهلِ سُنَّت" شاخونه قائم کړي دي. په دې فِقهي او شرعي مرکزونو کښې دعوتِ اسلامي سره وابسته او تربیت یافته عُلمائے کرام د مختلفو وسائلو په مدد سره تحریري، زباني، د موبائل او واټس ایپ وغیره په ذریعه په شرعي رهنمائي کښې مصروفِ عمل دي.

## اسلامي تحقیقاتي او اشاعتي اداره:

د علمِ دین د خپرولو دپاره المدینةُ العِلمیة (د دعوتِ اسلامي تحقیقاتي اداره) قائمه ده، د دعوتِ اسلامي شعبه المدینةُ العِلمیة (Islamic Research Center) کښې د نورو ډیرو ذیلي شعبه جاتو په تعاون سره تفسیر، حدیث، فِقه، سیرت او موټیویشنل موضوعاتو او تنظیمي تربیت باندې مشتمل کتابونه او رسالے لیکلے کیږي او بالخصوص په دې ډیپارټمنټ کښې د اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په کتابونو باندې د مختلف نوعیت کارونو کولو سره د امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د کتابونو او رسالو دپاره مواد وغیره حاصلولو دپاره معاونت هُم کیږي. دا کتابونه او رسالے د دعوتِ اسلامي اشاعتي اداره مَكْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ کوي او عام کوي. د انټرنیټ په جدیدو ذرائعو اختیارولو د دعوتِ اسلامي د ویب سائټ www.dawateislami.net په ذریعه هُم په مختلفو ژبو کښې د نیکئ دعوت عام کیږي.

## ټرانسلیشن ډپارټمنټ:

د الله پاک په فضل و کرم سره، د دعوتِ اسلامي دا شُعبه په ټوله دُنیا کښې د دِیني لټریچر په 46 ژبو کښې ترجمه کوي. دې ډپارټمنټ تر اوسه پورې مجموعي طور د 7000 نه زیات پروجیکټس مکمل کړي دي او د مسلمانانو د رهنمائې دپاره په دې کښې اکثر د دعوتِ اسلامي په آفیشل ویب سائټ هُم موجود دي. د دې نه علاوه د الله تَعالٰی په فضل و کرم د

اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ مشهوره ترجمهٔ قرآن "کنزُ الایمان" او د مفتي عبدُ النَّبي حميدي صاحب مدظله العالی په انګريزۍ کښې ترجمه او د "کنزُ العِرفان مع حاشيه اِفهامُ القرآن" په انګريزۍ او سندهۍ کښې ترجمه د دعوتِ اسلامي اشاعتي ادارے مَکْتَبَۃُ الْمَدِیۡنه په ډير اهتمام سره چاپ کړې هُم دي.

## آن لائن رسيدل او د دعوتِ اسلامي تعليم:

د نيکۍ دعوت آن لائن رسَوَلو دپاره **دعوتِ اسلامي** د خپل ويب سائټ www.dawateislami.net په ذريعه "**فيضان آن لائن اکيډمي**" (بوائز، ګرلز) قائم کړے دے، د دې په مدد سره آن لائن (د انټرنيټ په ذريعه) د عالِم کورس او قرآنِ مجيد (حفظ و ناظره) تعليم ورکولے کيږي، د **30** نه زياتو کورسونو (مثلًا د لمونځ فيضان، د قرآن فيضان، او حديث، سيرتِ مصطفٰے، عقائد و فِقه، نکاح، نيو مسلِم کورس وغيره) په ذريعه خلقو ته د هغوئي کور ته د علم رڼا ور رسَوَلے کيږي.

## تعليمي نظام. دارُ الـمدينه:

د ايجوکيشن په ميدان کښې انګلش ميډيم اسلامک اسکولنګ سسټم د " **دارُ الـمدينه** " په نوم د پري پرائمري نه تر ميټرک پورې تعليم کوي، دا سسټم د کالج او يونيورسټي پورې د رسَوَلو پروګرام جاري دے.

## آئي ټي ډپارټمنټ:

د ټيکنالوجي د ايجاد سره سره، دعوتِ اسلامي د آئي ټي ډپارټمنټ په ذريعه خپل مقدس مشن مخ په وړاندې بوتللو دپاره د جديد ټيکنالوجي استعمال هُم کوي. **دعوتِ اسلامي** د سوشل ميډيا په ذريعه هُم د اسلامي تعليماتو عام کولو او د امت د اصلاح په کارونو کښې مصروفِ عمل دے. آئي ټي ډپارټمنټ اسلامي علوم د انټرنيټ او جديد ټيکنالوجي په ذريعه د عوامو دپاره په آسانۍ سره فراهم کړي دي، دغسې د ډيجيټل ميډيا او آئي ټي سيکټر د ترقۍ په دې جديد ميدان کښې هُم **دعوتِ اسلامي** لويه کاميابي حاصله کړې ده.

## ميډيا:

په بدليدونکې دنيا کښې د ميډيا کردار يو حقيقت دے چنانچه **دعوتِ اسلامي** د خپل "**مدني چينل**" په ذريعه په 7 لويو سيټيلائټو په اُردُو، انګلش، او بنګله ژبو کښې د دِين بهترين خدمت کوي. دغسې په دې ذريعه 450 مِيلِيَنه صارفينو ته د ژوند تيرولو لار ښودنه کوي.

## په فلاحي او سماجي خدماتو کښې د دعوتِ اسلامي کردار:

**دعوتِ اسلامي** د شُعبه FGRF (فيضان ګلوبل ريليف فاؤنډيشن) په ذريعه د همت او ثابت قدمۍ سره د فلاحي او سماجي خدماتو سلسله هُم جاري ساتلې ده او د خوږ آخري نبي محمدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غم زپلې امت د غمونو لرې کولو

دپاره ئي په لاک ډاؤن او سیلاب وغیره کښې د 26 لاکهو نه زیاتو کورنو مدد اوکړو، د دې نه علاوه ئې په دې حالاتو کښې بالخصوص د تهیلیسیمیا (Thalassemia) او بالعموم د نورو مریضانو دپاره د وِینې 53،000 بوتلې (Blood Bags) د جمع کولو داسې کارنامه سر انجام کړه چې د هغې مثال نه ملاویږي او د دې نه علاوه د نغد رقم، راشن [غلّے] او په نورو مختلفو طریقو د امت د خیر ښیګړې په کارونو کښې پیش پیش وو.

## د دعوتِ اسلامي نور پروجیکټس:

د **دعوتِ اسلامي** د فِکرِ امت جذبه ډېره فراخه او همیشه د **مخکښې** نه په بهتر انداز کښې ښکاریږي د هُم دې سلسلے جاري ساتلو په لړ کښې د "**ګرین ورلډ پروګرام**" تر لاندې په ګرین پاکستان مُهم کښې تر اوسه پورې لکونه بوټي لګولے شوي دي او د دې مُهم جاري ساتلو سره زمونږه دا نعره ده چې: "**بوټے لګول دي ونه جوړول دي**" د معذورو ماشومانو د علاج دپاره د FRC (فیضان ري هیبلي ټیشن سینټر) په نوم اِداره قائمه کړے شوې ده کومه چې د یتیمانو او ضرورتمندو ماشومانو دپاره د هغوئي د پالنې سره سره د هغوئي د بهترین مدد دپاره هُم په کوشش کښې لګیا ده. دا خبره لا په هُم دې ځائے ختمه نه ده بلکه د خوږ مدني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غم زپلي امت د خدمت د جذبے سره FGRF "**مدني هیلتھ سینټرې**" هُم قائمول شروع کړي دي چې د هغې وړومبے شاخ په کراچۍ کښې خدمت شروع کړے دے په دې هیلتھ سینټر کښې د ماهرو سپیشلسټو ډاکټرانو په نګرانۍ کښې ارزان علاجونه او لیبارټري ټیسټونه وغیره کیږي. دغسې نزدې ده چې د یتیمو او بے اسره ماشومانو د کفالت او د هغوئي دیني او دُنیاوي تربیت دپاره به "**مدني هوم**" وړومبے په کراچۍ کښې او بیا ورو ورو د هغوئي د روښانه مستقبل د لارې هوارولو دپاره به په نورو ښارونو او ملکونو کښې هُم دا سینټرې قائمیږي، د دې نه علاوه به د سړو او ښځو د خود مُختاره او هنرمنده جوړولو دپاره یوه اداره نزدې ده چې قائمه کړے شي، اِنْ شَآءَاللّٰهُ الکریم

**الله** پاک دې **دعوتِ اسلامي** ته نورې کامیابۍ او ترقۍ هُم ورکړې. آمین.

